# د پښتو نړیوال کانفرنس پرېکړه لیک

برهان الدین دربار

د ۱۳۸۸ لمریز کال د تلې ۱۷مه، د ۲۰۰۹م کال د اکتوبر نهمه نېټه کابل- افغانستان

د پښتو نړیوالو کانفرنسونو په لړ کښې د ۲۰۰۹م کال د اکتوبر په ۸- ۹ نېټه د کابل ښار د لویې جرګې په تاریخي خېمه کښې دوه ورځنے پښتو نړیوال کانفرنس وشو. د دې پښتو نړیوال کانفرنس برخه والو د کانفرنس په اخر کښې په متفق ډول دغه لاندې پرېکړه لیك صادر کړو:

۱- ژبه د هر انسان خدائي، طبیعي، بنیادي او قانوني حق دے، پښتانهٔ هم لکه د نړۍ د نورو وګړو په شان دا حق لري چې خپل دا حقوق ئې خوندي وي او ګټه ورڅخه پورته کړي. د افغانستان او پاکستان حکومتونو څخه غوښتنه کېږي چې په ژبنۍ برخه کښې خپلې ذمه وارۍ او مسوولیتونه درك کړي، د پښتو ژبې په وړاندې پرتې مسئلې له منځه لرې کړي او د هغې د ودې لپاره هلې ځلې وکړي.

۲- فرهنګي ټولنې، علمي مرکزونه، مدني ټولنې او نورې متعلقه اداري باید په خپل منځ کښې یوه خُلهٔ او یو اواز شي او د پښتو ژبې د ودې لپاره هڅې وکړي.



۳- د قومي مشرانو څخه هیله کېږي چې په خپل یووالي او پېوستون د پښتو ژبې او پښتنو په وړاندې د پرتو ستونزو ختمولو کښې یو بل سره مرستې وکړي.

۴- له متعلقه علمي او اکاډمیکو مرکزونو څخه غوښتنه کېږي چې د پښتو لیکدود د لا یووالي او کره والي په خاطر دې د پخوانیو اهمو ګډو پرېکړو په دوام خپلې هڅې نورې هم پسې وغځوي او په دې برخه کښې دې د هر ډول ګډوډۍ مخه ونیسي.

۵- د پښتو ژبې د ودې لپاره دې، د لیکوالو، کلتوري ټولنو، علمي مرکزونو او نورو ادارو ترمنځ رابطه جوړه کړې شي.

۶- د فرهنګي فعالیتونو او چارو د ښه سمبالښت لپاره باید د پښتون فرهنګ حوزې تشخیص او د هرې حوزې د خصوصیاتو په پام کښې نیولو سره دې هلته د ژبې او فرهنګ د ودې لپاره مناسب مېکنیزم جوړ شي.

۷- ټول متعلقه اداري باید د پښتو لیکوالو، قانوني، مادي، معنوي او حقوقي ملاتړ وکړي او د

هغوی د کارونو په وړاندې دې ټول غیرقانوني خنډونه له منځه یوسي.

۸- دولتونه او نور متعلقه اداري باید د پښتو ژبې د ودې او د علمي قدرونو د روزنې لپاره هلې ځلې وکړي او داسې اسانتیاوې برابرې کړي، چې پښتنانهٔ هم لکه د نورو په شان د خپل فرهنګ او ژبې د ودې لپاره د وخت له عصري او تخنیکي امکاناتو څخه ګټه پورته کړي.



۹- د افغانستان دولت باید د افغانستان د اساسي قانون له احکامو سره سم په تعلیمي، تحصیلي، سیاسي او دفتري ډګر کښې د پښتو ژبې تسجیل شوے حق عملي او د پاکستان مرکزي او صوبائي حکومتونه باید په تعلیمي نصاب او دفتري چارو کښې د پښتو ژبې حقوق خوندي او عملي کړي او ټول هغه خنډونه له منځه لرې کړي چې تراوسه پورې د پښتو په وده کښې خنډ دي.

۱۰- د کانفرنس برخه وال له ټولو هغو عناصرو څخه، چې ښوونځي سوزوي او پښتانهٔ ماشومان د زدکړې له نعمته بې برخې کوي، په ټینګه غوښتنه کوي، چې ژر تر ژره له خپل دې عمل څخه لاس واخلي، هېڅ عقیده او هېڅ ایډیالوژي دا عمل نه شي توجیه کولے. د افغانستان او پاکستان حکومتونه او نړیواله ټولنه باید له هرې ممکنې لارې چې وي، د پښتنو ماشومانو دا حق خوندي کړي.

۱۱- د اولس له مخورو خلقو، استاځو، حکومتونو، مدني ټولنو، علمي او کلتوري مرکزونو څخه غوښتنه کېږي، چې له عام پښتون اولس سره د ځینو هغو کلتوري ستونزو او ناوړه رواجونو لرې کولو کښې مرسته وکړي چې د دوی ژوند ئې له ستونزو او کړاوونو سره مخ کړے دے.

۱۲- له ټولو متعلقه ادارو څخه غوښتنه کېږي، چې د پښتو رسنیو د ودې لپاره هلې ځلې وکړي. رسنۍ باید د پښتنو د ژوند او کلتور حقیقي تصویر او پېغام نړۍ ته وړاندې کړي.

۱۳- د پښتنو د ژوند او پښتو ژبې د ودې د څېړنو په موخه د پښتو نړیوالو کانفرنسونو دا پېل شوې لړۍ ډېره موثره ده، باید وخت په وخت دا ډول کانفرنسونه جوړ شي او لږ تر لږه دې په کال کښې یو ځل پښتو نړیوال کانفرنس کېږي.

۱۴- د دې کانفرنس په څلورو کمېټو کښې شوې پرېکړې د دې عمومي پرېکړه لیک برخه ګڼل کېږي او د کانفرنس د برخه والو د نظریاتو څرګندونه کوي او له متعلقه دولتي، نادولتي ادارو او اولسونو څخه غوښتنه کېږي، چې په خپله خپله برخه کښې د دې کانفرنس د پرېکړو په عملي کولو کښې برخه واخلي.

دا پرېکړه لیک به د کانفرنس د یو رسمي سند په توګه ټولو متعلقه ارګانونو ته لېږل کېږي او رسنیو کښې به خورېږي.